مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباري جهانی
Paul Laurence Dunbar
1872-1906

۲۰۲۳/۰۵/۳۰

# مورږ اغوستي نقابونه

په دروغو مو موسکاده مورږ اغوستي نقابونه
چې پر سترګو کوي سیوري پټوي چې زمورږ مخونه
خولې مو ډکې له خندا دي تر زړګی مو وینی څاڅي
د بشر د تزویرونو پرې کوو دغه پورونه
که په وس وي او کنه وي که مو زړه وی که زړه نه وي
خولې مو وېري وي نیولي وړو پر زړو د غم بارونه
پربړده ولی نړۍ پوه سي ولی دونه وي هوښیاره
چې پر مخ مو اوښکي شمېري حسابی چې مو آهونه
نه نه پرېږده چې غلط سي تر قیامته دي غولېږي
مورږ اغوستي نقابونه مورږ به پټ ساتو رازونه
مورږ به خاندو مګر خدایه تاته زمورږ چیغی رسېږي
چې آسمان ته پورته کېږی د زخمي زړو فریادونه
مورږ سندري وایو ناڅو خو تر پښو لاندی مو مځکه
لکه کنده د دوږخ ده او فاسد یې رباتونه
نړۍ پرېږده چې ویده وي بېخبره زمورږ له رازه
مورږ اغوستي نقابونه  مورږ به پټ ساتو رازونه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له مورږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ